درویش وردک

۱۵ دسمبر ۲۰۱۶

## اته پنځوسم مجلس(په اخلاص کی)

دجمعی په ورځ سهار د ۵۴۵ هجری قمری کال دشوال دمیاشتی په لومړی نیټه شیخ(رضی الله تعالی عنه) په مدرسه کی داسی وفرمایل: څه ډیرزده کوی ولی عمل نه پری کوی!! دعلم دیوان وترله اوبند یی کړه، دعمل اواخلاص دیوان پرانیزه، اوکه نه درستګاری په فکر کی مه اوسه. تایوازی په زده کړه بسنه کړی، کړنودی دخدای عزّوجلّ پروراندی جسورکړی یی، دشرم اوحیا حجاب دی له سترګو لیری کړی،اونه پوهیږی چی خدای په آسانی اوسادګی سره ستا نظاره کوی. ستا اخیستنه، منع، ورکړه، خوځښت اوټول کړه دی دهوا اونفس له مخی دی، اوپه ناچاره دنفس په منګلو کی ګیراوهغه به دی هلاکت ته کش کړی. له دی کړو څخه راوګرزه، اوپه ټولو احوالاتو کی له خدایه شرم وکړه، دهغه په احکامو او اوامرو عمل وکړه، ځکه که دشرعی په ظاهره دی عمل وکړ، هماغه به دی دخدای پیژندنی ته هدایت کړی.

**لویه خدایه مونږ دغفلت له خوبه راویښ کړی. آمین!!**

هرکله که دی معصیت ته مخه کړه، نوپوه شه چی آفات اورنځونه به هم تاته مخه کړی، اوکه دی له ناوړه کړو څخه توبه وکړه، اوله خدایه دی دغفران غوښتنه وکړه، توتبارک وتعالی خدای به هم درسره ملتیا وکړی اوله ګناهونو به دی تیرشی. هرځوک په ناچاره له بلاو سره مخ کیږی، له خدایه وغواړه چی دبلاو په وخت درته صبراوشکیبایی عطاکړی، ترڅو دبلا نیش اوزیان یوازی په تن ورشی اوزړه دی له ګواښه اوتردید څخه مصون پاته شی. له خدایه وغواړه چی دبلا آسیب ظاهری وی نه په باطن باندی، په مال وی نه په دین ، پدی حال کی دی چی بلا اومصیبت نعمت دی نه نقمت.

ای منافقه! تا دخدای اورسول له پیروی او اطاعته یوازی په نامه اوعنوان قناعت کړی اومعنی دی پری اینبی ده، نوپه ناچاره به دنیا اوآخرت کی خواراوذلیل وی. پوه شه چی عاصی او دروغجن تل خوار اوذلیل دی.

ای عالمه! خپل ګران بیه علم ددنیا په مال باندی مه ککړوه، عزیزاو ارجمند ددنیا په بی ارزښته مال اوشتومه پلوره، علم عزیز دی، اوهغه چی یوازی ددنیا مال لری خواراوذلیل. پوه شه هغه څه چی ستا روزی نه وی، خلک نشی کولای هغه درکړی، اوکه کوم څه ستا نصیب اوبرخه وی نوصبروکړه چی محترمانه دی لاس ته درشی. وای پرتا! مخلوق مرزوق دی نه ،رازق، مُعطا دی نه مُعطی. دخدای په عبادت اوطاعت بوخت اوسه، اوغوښتنی اوطلب ترک کړه، ځکه متعال خدای ستا په مصالحو(ګټو) خبردی، اوهغه څه چی لازم اوضروری وګڼی درته عطا کوی، په

قدسی حدیث کی راغلی: (مَنْ شَغَلَهُ ذِكْرِی عَنْ مَسْأَلَتِی أَعْطَيْتُهُ أَفْضَلَ مَا أُعطِی السَّائِلِیْنَ)-«هرڅوک چی زما په ذکراویاد مشغول وی، له سوالکونکیو څخه به ورته بهتره اعطا کړم».
خبراوسه چی دژبی ذکر چی دزړه حضورورسره نه وی هیڅ کرامت اوارزښت نلری. ذکرهماغه قلبی دی اوباطنی، اوورپسی دژبی ذکر. هرکله که دذاکر ذکر له حقیقت سره مل شو، نو دحق سبحانه وتعالی دوینا مشمول به شی: (أُذْكُرُنِی أَذْكُرْكُم وَ أُشْكُرُوالِی وَلَا تَكْفُرُونَ)-« که موزه یاد کړم تاسی به یاد کړم، زما مننه وکړی اوله ناشکری څخه لیری اوسی. سوره بقره آیه ۱۵۲».
خدای په ریښتینی سره یاد کړی ، ترڅوتاسو یاد کړی، ترڅو مو ذکردګناهونو دزایل کیدو سبب وګرځی، اودحق دغفران مشمول به وګرځی، اوطاعت اوعبادت مو باید داسی وی چی له هرډول معصیت اوګناهوڅخه پاک اوخالصانه دخدای لپاره وی. دخدای ذکربنده دخلکو له یاده باسی، دخدای ذکربنده ددمادی غوښتنو اوتمنیاتو څخه لیری ساتی، اوټول قصد اومنظور یی دخدای درضایت جلبول دی، اوهرکله چی عبد دغه مقام ترلاسه کړ دملک دخزانو ټولی کلی به دده دزړه په لاسوکی قرارولری.
هرچاچی خدای وپیژانده اوهغه پری ګران و، نوربه پرته له ده په بل څه زړه ونه تړی، پرته له خدایه به دنورو حب اومهر دده له زړه لیری شی. هرکله که دخدای حب دچا په زړه کی ځای شو، دنورو مهربه یی له زړه ووزی، دحق دمهرخوږوالی به په ټولو غړو سره احساس کړی، په ظاهره اوباطن سره به په خدای بوخت وی، له عادته به لیری اوعبادت ته به مخه کړی، اوهرکله که یی دغه مقام ترلاسه کړی، نو تحقیقا به دحق دمحبت وړ وګرځی.
آیا دعقل خاوند نه یی چی هغه(قیامت) ته وګوری اوپه هکله یی فکروکړی.؟ یوه شه چی ستا وار به هم راورسیږی اودمرګ فرشته به درپسی راشی. آیا دهغی ورځی لپاره دی څه توښه تدارک کړی؟ مرګ رارسیږی، له ځایه به دی ولیږوی، ستا اواهل اوفرزند اودوستانو ترمنځ به بیلتون راولی. زیار وباسه په هغه وخت کی قبض روح کیږی، دداسی کړو مرتکب نه شی چی دخدای پروړاندی شرمنده شی، اوله لقاء الله څخه په تیښته شی. دآخرت توښه برابره کړه اومرګ ته سترګی په لاره اوسه، اویوه شه هغه څه چی تا دآخرت لپاره برابر کړی، ترهغی به ډیراوښه پاداش واخلی، داسی نعمتونه به ترلاسه کړی چی هیڅکله دی په دنیا کی نه وی لیدلی.
**«ربناآتنافی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقناعذاب النار»آمین.**